د افغانستان پیشگام ډله
۱۳۸۶- د تلې میاشت

# آزاد بازار، بداینه او بیوزلي

**دوهمه برخه**

## آزاد بازار، د وسله ایزه سیالیو بازار

د ګارډین ورځپاڼې د ۲۰۰۷ کال د فبرورۍ په ۲۲ رپوټ ورکړ چې د بریټانیا د وسلې جوړونې سترې کارخانې BAE Systems کلنۍ خالص سود په ۲۰۰۶ کال کې په سلو کې ۴۰ زیاتوالی موندلی دی. په ۲۰۰۶ کال کې د دې کمپنۍ سود ۱،۰۵۴ ملیارد پونډو ته ورسید، چې د ۱۳،۸ ملیارد پونډو وسلو له پلورلو څخه لاس ته راغلی دی. ګارډین لیکي، چې دا سود د افغانستان او عراق د جګړې له پیل وروسته د امریکا د وسله ایزې سوداګرۍ له غوړیدو څخه تر لاسه شوی دی. د دې شرکت چارواکي له دې امله چې د امریکا د وسلو مارکیټ ښه تود دی، ډیر خوشحاله ښکاري او وایي چې ۲۰۰۷ کال به هم دې شرکت ته د بریالیتوب کال وي. د BAE Systems شرکت یوه چارواکي په ویاړ سره ویلي چې د کمپنۍ ارزښت یې د امریکا د سوداګرۍ له امله لوړ شوی دی!!

بغداد او کابل هغه دوه نومونه دي، چې په اوریدو سره یې د وسلو جوړونو کمپنیو د مالکانو او د آزاد بازار د دلالانو پر شونډو مسکا لیدل کیږي. د Systems Bofors وسلې جوړونې شرکت ویاند کریستر هنبک په خوښۍ سره ویلي دي، چې د عراق جګړه د وسلو د تولید لپاره یو رنسانس و. همدا ډول د ۲۰۰۷ کال د مارچ میاشتې په نیمایي کې رسمي رپوټونه ښکاره کوي، چې د سویډنې وسلو صادرولو یو بې ساری ریکارډ ټینګ کړی دی. په ۲۰۰۶ کال کې د سویډنې وسلو صادراتو په سلو کې ۲۰ ډیروالی وموند او ۲۰ ملیارډه سویډنې کرونو ته ورسید. په ټولیزه توګه له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۰۷ کاله پورې د سویډن د وسلو د صادراتو کچې څه د باندې دوه برابره زیاتوالی وموند. سویډن دا وخت د نړۍ ۵۰ هیوادونو ته، چې ۱۶ یې د عراق په نیواک کې ونډه لري، وسله صادروي.

د وسلو جوړونې شرکتونه د آزاد بازار له اقتصاد سره سم، په دې سیالۍ کې کوم برید او پوله نه پیژني. د سویډن د وسلې جوړونې شرکت دا وخت د کابل، بغداد، کشمیر، فلسطین، پاکستان، هند، اسراییل او چچن بازارونو ته وسله صادروي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې کاندولیزا رایس د ۲۰۰۷ کال د اګست په ۲ نیټه وویل چې په راتلونکو لسو کلونو کې به سعودي عربستان، مصر، کویټ، بحرین، قطر، عمان او عربي اماراتو ته د دې هیواد د وسلو د صادراتو کچه ۴۶ ملیاردو ډالرو ته ورسیږي. همدا ډول د اګست په ۱۵ نیټه واشنګټن، اسراییل ته د خپلو پوځي مرستو کچه لوړه کړه او ټاکل شوې ده په راتلونکو لسو کلونو کې د دې مرستو کچه ۳۰ ملیاردو ډالرو ته ورسیږي. متحدو ایالتونو له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په تیرو ۴۰ کلونو کې پر پوځي تولیداتو ۱۰ زره ملیارده ډالره لګولي دي.

په ورته وخت کې پاریس له طرابلس سره یو مهم تړون لاسلیک کړی، چې په دې توګه به د دې هیواد دوه شرکتونه ۲۹۶ ملیونه یورو وسله په طرابلس خرڅه کړي. له دې تړون سره سم د فرانسې ولسمشر نیکلا سرکوزي په حیرانتیا سره ویلي دي، چې دا ځل به په کومه پلمه پرې نیوکه وشي، د فرانسوي شرکتونو د ګټې په موخه کار کول؟ د وسله ایزو صنایعو د پلاوي یو ویاند د ۲۰۰۶ کال د سپتامبر په ۱۸ څرګنده کړه چې فرانسه

باید په ۲۰۰۷ کال کې ۶ ملیارده یورو وسله بهر تـه صـادره کړي، په داسـې حـال کـې چـې پـه ۲۰۰۴ کـې دا کچـه ۳/۳۸ میلیاردو یورو ته رسیده.

د نړۍ په تاریخ کې هیڅکله په دې کچه وسله ایزه سوداګرۍ غوړیدلې نـه وه، ښـایي پـه ۲۰۰۶ کـال کـې د نـړۍ وسله ایزه لګښتونه د ۱۰۵۸/۹ ملیارد ډالره بې سارې شمیرې ته رسیدلي وي.

د امریکا د اردو لوي درستیز دنیس ریمر د وسلو لـه پرمختللي تکنـالوژۍ څخه د خوښـې پـه ښـودلو سـره داسـې وړاندوینه کوي: "کله چې دښمن د جګړې په ډګر کې خپله کوچنۍ ګوته وخوځوي، زموږ ټول سرتیري بـه لـه دې کار څخه خبر وي او په بیړه به دښمن کیش او مـات کـړي." سره لـه دې چـې د وسلو ټکنـالوژۍ وده کـړې ده او د امپریالیستي چاړواکو په وینا اوس امپریالیستان کولای شي په آسانۍ سره خپل دښمنان وځپي، بیـا هـم د آزاد بـازار په اډانه کې ورځ تر بلې د وسلو سوداګري غوړیږي او په دې موخه امپریالستانو د اسامه بن لادن تـر لارښـودنې لاندې د "ترهه ګرۍ نړیوال شرکت" جوړ کـړی دی، تـر څـو د نـورو امپریالیستي موخـو تـر څنـګ د کمپینـو پـه غوړیدو کې هم مرسته وکړي.

د وسلو جوړولو شرکتونو مدیران وایي چې د وسلې جوړوني شرکتونه او دولتونه یو بل ته اړتیا لـري. دولتونـه اړ دي چې د خپلې اړتیا وسلې له دې شرکتونو څخه پوره کړي او شرکتونه هم د دولت لپـاره د کـار او کـورنې ناخالص تولید د ودې زمینه برابروي!!

له همدې امله امپریالیستانو ته د اقتصاد بازار د منځپانګې له مخې دا ارزښت نلري، چې د دې یوځـې وسـایلو پـه تولید سره به په نړۍ کې څه ناورینونه رامنځ ته شي، څه چې د دې وسلو پـه تولیـد کـې ارزښـت لـري، سـود او ګټـه ده، چې د امپریالیستي دموکراسۍ جوهر جوړوي.

د ساري په توګه له دې وسلو څخـه یـو یـې هـم ګنګوري بمونـه دي، چـې د یـو آلمـاني شـرکت لخـوا تولیـدیږي. دا ګنګوري بمونه، ۷۲ بمونه لري . پر لبنان د اسراییل د یرغل پر مهال د ګنګوري بمونو ناورین د نړیوالو پـام خـان ته راواړوه. د ملګرو ملتونو د رپوټ له مخې د لبنان په جګړه کې لا یو ملیون ګنګوري بمونه کرل شوي پـاتې دي. په داسې حال کې چې ۱ ملیون ګنګوري بمونه د لبنان پـه سـویل کـې کـرل شـوي دي او د لبنانیـانو ژونـد ګـواښـي، د سویډن د دفاع وزیر وایي چې باید یواځې د ناانساني وسلو د تولید مخنیوی وشـي، پـه داسـې حـال کـې چـې زمـوږ ګنګوري بمونه انسانی دي او انسانانو ته کوم تاوان نه رسوي!!!

همدا ډول دا مهال په افغانستان کې هره میاشت ۱۰۰ کسان د ناچاودیدلو بمونو لـه املـه ټپـي او وژل کیـږي او انګلیسي سرتیري خپلې ترموباریک ډوله نوې تولید شوې وسلې زموږ په خاوره کې آزمایوي.

## آزاد بازار، د بیوزلۍ پراختیا

آزاد بـازار، د خلکو پر ژونـد د پیسو قانون واکمنوي او انسـاني ارزښـتونو تـه بـازاري بڼـه ورکـوي. پـه آزاد بازار کې کارګران د ماشینونو برخه ګرځي او په ټولنه کې منځنی طبقي لـه منځـه ځـي او د شـتمنو او بیوزلـو تـر منځ طبقاتي توپیرونه سیوا کیږي. په دې اقتصادي نظام کې په ظاهره اقتصادي قوانین واکمن دي، خـو پـر بـازار اقتصادي انارشیزم، چـې د پـانګوالو پـه ګټـه دی، واکمنـي لـري. لـوی شـرکتونه د انحصـار لـه لارې واړه او ملـي شرکتونه دیوالي کوي؛ لوی پـانګوال، کوچني پـانګوال لـه تولید څخه کـاږي؛ لـویې صـنعتي کارخـانې، کوچنـۍ کارخانې ړنګوي؛ بهرني شرکتونه، ملي شرکتونه پیري او پـه پـای کـې د صـنعت، سـوداګرۍ او تولید کنټرول د بانکونو لاس ته لویږي. دا اقتصادي نظام پانګوالو ته زمینه برابروي، چې د ټولنې د اربابانو په توګه، درې ګـونې قواوې، دموکراسي او مدني ټولنه په خپل کنټرول کې ونیسي او د استثماري موخو د تر لاسه کولو لپاره پـر نـړۍ د واکمنیدو په فکر کې ولویږي. پر نړۍ واکمنیدل، لامل کیږي چې د دې اربابانو ګټې له یوه بل سره متضادې واقـع شي او له همدې امله د نیمه پانګوالو هیوادونو د بازارونو، اومه موادو او ارزانـه کـاري ځـواک د لاس تـه راوړلـو پر سر د اقتصادي اربابانو تر منځ سیالي پیل کیږي او پای یې وسله والې سیالۍ ته رسیږي، چې د ډله ایزه وژنـو، بیولوژیکي او اټمي وسلو له تولید سره سم نړیوالو جګړو ته لاره پرانیزي. تیرې لومړۍ او دویمې نړیوالې جګـړې له همدې سیالۍ له امله رامنځ ته شوې، چې د پراخي ویجاړۍ او اټمي وسلو د کاروني تر څنـګ، ملیونونه انسانان یې بلهاري کړل.

څرنګه چې مخکې وویل شول، هرکله چې د هیوادونو په اقتصاد کې لویې صنعتي کارخانې ورکدیږي، منځنـۍ طبقې له منځه ځي او په دې توګه د کوچنیو ملکیتونو مالکان په کاري ځواک بدل او د پرولترانو یـوه لویـه طبقـه رامنځ ته کیږي. د بازار اقتصاد لامل کیږي، چې په ټولنه کې په ټولیزه توګه دوه طبقي راڅرګندې شي: پرولتره طبقه، چې د ټولنې ډیرۍ برخه جوړوي او پانګوالـه طبقه چې سلنه یـې د کـارګرانو پـه پرتلـه آن د شـمیرلو وړ نـه ګڼل کیږي. په دې اقتصادي نظام کې د تولید د وسایلو مالکیت د پانګوالي طبقې په لاس کې وي او پرولتره طبقه د کارګر په توګه خپل کاري ځواک پانګوالو ته پلوري. د کارګرانو په زبیښاک سره پـانګوالان اضـافي ارزش لاس ته راوړي او په دې ډول د پانګوالو پانګه ورځ تر بلې سیوا او کارګران لا بیوزله کیږي.

په آزاد بازار کې د مادي نعمتونو او د عوایدو ویش په ډیر ناعادلانه توګه تر سره کیږي. د نړیوال بانـک (د امپریالیزم د مالي الیګارشي یوه څانګه) اقتصاد پوه، برانکو ملانویچ پـه یـوې ارزونـې کـې لیکـي، چـې د نـړۍ پـه

سلو کې يو بډای د نړۍ په سلو کې د ۷۵ بیوزلو خلکو عاید لري. په ۱۹۹۳ کال کې په سلو کې د پنځو شتمنو د منځني عاید کچه په سلو کې د پنځو بیوزلو د منځني عاید ۱۱۴ برابره وه. حال دا چې په ۱۹۸۸ زیږدیز کال کې دا کچه ۷۸ برابره وه. دا شمیرنې ښکاره کوي، چې په دې موده کې د بیوزلو ٪۵ خلکو د خپل واقعي عاید ٪۲۵ له لاسه ورکړی دی، په داسې حال کې چې په دې موده کې د ٪۲۰ شتمنو کسانو عاید ۱۲ برابره ډېر شوی دی.

همدا ډول آزاد بازار لامل شوی دی، چې شتمن هیوادونه لا شتمن او بیوزله هیوادونه لا بیوزله شي. د ملګرو ملتونو د انساني پراختیا وروستی رپوټ څرګندوي، چې په متحدو ایالتونو کې د ۲۵ شتمنو کسانو عاید په نړۍ کې د دوو ملیاردو کسانو له عاید سره همغاړیتوب لري. په ۱۸۲۰ کال کې د لویدیځې اروپا سرانه عاید د افریقا د سرانه عاید دري برابره و، حال دا چې په ۱۹۹۰ لسیزې کې دا کچه په سلو کې ۱۳ ته ورسیده. همدا ډول دا وخت د نړۍ ۴۹ بیوزله هیوادونه د نړۍ ٪۱ سوداګري په لاس کې لري او ۵۴ هیوادونه د ۱۹۹۰ لسیزې په پرتله بیوزله شوي دي؛ په ۲۱ هیوادونو کې ډېري وګړي د لوږې وروستې کچې ته رسیدلي دي؛ په ۱۴ هیوادونو کې زیات شمیر ماشومان له پنځه کلنې وړاندې مري او په ۳۴ هیوادونو کې د ژوندانه د هیلې کچه راټیټه شوې ده.



د آزاد بازار ملاتړ کوونکي په دې لټه کې دي، چې د امریکا د متحدو ایالتونو اقتصاد د یو بریالي آزاد بازار اقتصاد په توګه د مخ په ودې هیوادونو خلکو ته د ښې بیلګې په توګه وربښکاره کړي. حال دا چې په امریکا کې همدا اقتصاد لامل شوی دی، چې د طبقاتي توپیرونو کچه ورځ تر بلې سیوا شي او خلک لا د بیوزلۍ لوري ته وکاږل شي. شمیرنې ښکاره کوي چې په ۲۰۰۲ کال کې د امریکا په متحدو ایالتونو کې ۳۴،۶ ملیونه وګړو (د امریکا د نفوس ٪۱۲،۱) د بیوزلۍ د کرښې لاندې ژوند کاوه (په امریکا کې د بیوزلۍ د کرښې کچه په ورځ کې ۱۲،۶ ډالره ده). په همدې توګه په متحدو ایالتونو کې په ۲۰۰۱ کال کې په سلو کې ۳۵،۲ شپږکلنو تورپوټکو ماشومانو په بیوزلۍ کې ژوند کاوه.

په امریکا کې د عوایدو ویش په ډیره ناعادلانه توګه تر سره کیږي. په ۲۰۰۰ زیږدیز کال کې د امریکا په سلو کې د پنځو شتمنو کورنیو عاید د دې هیواد په سلو کې د شلو بیوزلو کورنیو د عوایدو شپږ برابر و. په اتیایمې لسیزې کې د امریکا د عوایدو په سلو کې اویا، د ٪۱ شتمنو کورنیو په برخه کیده. همدا ډول په ۱۹۹۷ کال کې په امریکا کې د منځني عاید له مخې، د بیوزلو کسانو شمیره نژدې ۴۵ ملیونو ته رسیدله. په ۱۹۹۵ کال کې د امریکا د متحدو ایالتونو ٪۱ شتمنو کورنیو د دې هیواد په سلو کې ۴۲،۲ ونډه، په سلو کې ۵۵،۷ د پورونو سندونه او په سلو کې ۳۶،۹ ناکورنی شتمنی په واک کې درلودله.

## آزاد بازار ، د ټولنیزو ملکیتونو خصوصي کیدنه

آزاد بازار له خصوصي کیدو سره پیل کیږي. په هغو هیوادونو کې چې دولتي او یا مختلط اقتصاد واکمن وي، د دولتي تصدیو او بانکونو او خدماتي سکتورونو خصوصي کیدل په دې بازار کې یوه لویه ستونزه وي، چې د بهرنیو پانګوالو او امپریالیستی مالي الیګارشي لخوا په آسانۍ سره حل کیدای شي.

له هغه ځایه چې مخ په ودې هیوادونه د پانګې لړوالي سره مخ دي، یوازې بهرنۍ شرکتونه کولای شي دولتي ملکیتونه وپیري. د آزاد بازار پلویان هڅه کوي، چې په دولتي تصدیو کې د درغلۍ او فساد په تبلیغولو سره دولتي تثبیت شوي قیمتونه د بازار پر قیمتونو واړوي او تصدیانې د دولت له لاسه وکاږي. د قیمتونو له بازاري کولو سره کومې پیسې، چې حکومتي چارواکي د فساد له لارې په جیب وهي، د بیو په لوړوالي سره د بازار مالکانو بانکي حسابونو ته لیږدول کیږي او د زبیښاک زمینه پیاوړې کوي. د آزاد بازار پلویان، زیارکښانو سره د خواخوږۍ له امله له دولتي فساد سره مخالف نه دي، بلکې دا مخالفت د لوټ د ځرنګوالي پر سر دی. بازاریان هڅه کوي، چې د خلکو د لوټنې سرچینې له حکومتي چارواکو څخه بازار ته ولیږدوي، تر څو د انحصار، احتکار او د زبیښاک له لارې خپل جیبونه ډک کړي.

څرنګه چې یادونه وشوه، له خصوصي کیدنې سره سم، بیې په بې ساري توګه لوړیږي او زیارکښان له ستونزو سره مخامخ کیږي. د ساري په توګه دا وخت څو توکمیزه شرکت ګلوب الک د افریقا، آسیا او لاتینې امریکا په شپاړس هیوادونو کې د بریښنا په سکتور کې پانګه اچولې او د سیمه ایزو شرکتونو په پیر بوخت دی. په یاد شویو هیوادونو کې د ګلوب الک شرکت پانګه اچونه د دې پر ځای چې خلکو ته بریښنا په ارزانه بیه برابره کړي، د خصوصي کیدنې بهیر یې ګړندی کړی او د برښنا بیې سیوا شوې دي. له هغه وخته چې د ګلوب الک شرکت د اوګاندا د بریښنا ملي شبکه پیرودلې ده، په دې هیواد کې د بریښنا بیه په سلو کې اویا لوړه شوې ده. همدا ډول کله چې د انرون شرکت د هندوستان د ماهاراشترا ایالت بریښنا وپیرله، په دې ایالت کې د مصرفي

بریښنا بیه په سلو کې څلور سوه ډیره شوې ده او په دومینکین جمهوریت کې د بریښنا خصوصي کیدنه لامل شوی ده، چې دولت ۱۳۵ ملیون ډالره له خصوصي شرکتونو پوروړی شي.

په نیمه پانګوالو هیوادونو کې د آزاد بازار د دودولو تر شا نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق ولاړ دي. دا دوه مالي ټولنې له آسیا پراختیایي بانک سره یو ځای هلې ځلې کوي، چې د دریمې نړۍ په هیوادونو کې ټولنیز مالکیت، پر خصوصي مالکیت واړوي. همدا اوس په افغانستان کې نړیوال بانک د آزاد بازار د پیاوړتیا په موخه بهرنۍ پانګه اچونه له سیاسي اړخه بیمه کړې ده او د دې بانک دوو څانګو" آی ایف سي" او" میګا" د روشن او اریبا مخابراتي شرکتونو ته پورونه برابروي، تر څو د خپلو خدمتونو کړۍ پراخه کړي. له دې پراختیا څخه موخه له افغانستان نه د پانګې ویستل دي، تر څو په دې هیواد کې ملي پانګه تراکم ونکړي او اقتصاد د بهرنۍ پانګې اچونې په لاس کې ښکیل پاتې شي. نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق د ۱۹۹۰-۱۹۸۲ کلونو په منځ کې ۲۴۰۰ ملیارده ډالره له بیوزلو هیوادونو څخه د بهرنیو پانګو له لارې شتمنو هیوادونو ته لیږدولي دي او دا لړۍ لا دوام لري.

## آزاد بازار او مالي الیګارشي

نړیوال بانک، د پیسو نړیوال صندوق او د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د امپریالیستي مالي الیګارشي په توګه هلې ځلې کوي، چې د هیوادونو اقتصاد د امریکا او نورو امپریالیستي هیوادونو په منګولو کې ښکیل او په دې موخه تل له زورواکو دولتونو څخه ننګه او ملاتړ وکړي.

له ۱۹۵۰ کال راپدیخوا د برټون ووډز ټولنو، په ځانګړي توګه په سویلي امریکا کې د دموکراتیکه او ولسي دولتونو پر ځای له ولس دښمنه دولتونو څخه ملاتړ کړی دی. همدا لامل دی چې په دې وروستیو کې د ونزویلا پوپولیست ولسمشر څرګنده کړې، چې په پام کې لري له دې دوو امریکایي امپریالیستي ټولنو څخه ووځي او پر ځای به یې د لاتیني امریکا له نورو هیوادونو سره د سویل بانک جوړ کړي. په همدې توګه د اکوادور ولسمشر رافائل کوره آ (Rafael Correa) ویلي دي، چې په دې ټولنو به د خپل هیواد مالي ډېره کمه کړي او بولیویا هم په ډاګه ویلي دي، چې نور د نړیوال بانک "د پانګې اچونې د اختلافاتو د سپیناوي ټولنه" په رسمیت نه پیژني.

نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق نږدې ۳۰ کاله د نیکاراګویي له دیکتاتور، آناستازیو سوموزا څخه ننګه وکړه، چې دې ملاتړ د نوموړي تر ړنګیدو (۱۹۷۹) پورې دوام وموند. په ګواتیمالا کې دې دوو ټولنو د ژاکوبو آربنز له پرمختللي دولت سره پریکون وکړ او په بیړه یې د پوځیانو له هغې باند څخه ننګه وکړه، چې دا پرمختللی دولت یې ړنګ کړ.

همدا ډول نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق په لاتیني امریکا کې د هغه دموکراتیکه حکومتونو په وړاندې خنډونه جوړول، چې هڅه یې کوله ټولنیزه نابرابري کمه کړي او خپل هیوادونه له اقتصادي پلوه پر پښو ودروي. په ۱۹۵۸ کال کې یې د برازیل ولسمشر جوسلینو کوبیتزچک سره، چې د پیسو نړیوال صندوق شرطونه یې نه وو منلي، مخالفت وکړ او د هغه له ځای ناستي خوئوا ګولارت سره، چې په ۱۹۶۵ کال کې یې د ارضي اصلاحاتو او د نفتو د صنعت د ملي کولو اعلام وکړ،

پریکون وکړ. په همدې توګه نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق وروسته له هغې په چیلي کې خپل فعالیتونه بیا پیل کړل، چې د سالوادور آلنده دولت ړنګ (۱۹۷۳) شو.

د ۱۹۷۶ کال په مارچ میاشت کې د پیسو نړیوال صندوق په آرژانتین کې له جنرال جورج ویډلا څخه ملاتړ وکړ او د ۲۰۰۲ کال د اپریل په میاشت کې د پیسو نړیوال صندوق او نړیوال بانک هغه دوه لومړنۍ مالي ټولنې وې، چې د امریکا او اسپانیا په مرسته یې د هوګو چاویز په وړاندې له کودتا څخه زیږیدلي لنډمهاله دولت سره د مرستې اعلان وکړ.

نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق په عمدي توګه د سویلي امریکا او نور بیوزله هیوادونه د پوروړ کیدو لورې ته کاږي. د ۱۹۷۰ او۱۹۸۲ کلونو تر منځ د دې هیوادونو بهرني پورونه له ۱۶ ملیارد ډالرو څخه ۱۷۸ ملیارد ډالرو ته ورسیدل.

وروسته له دې چې ضیاء الحق په پاکستان کې واک ته ورسید، د پیسو نړیوال صندوق او نورو مالي ټولنو سره یې په ۱۹۸۸ میلادي کال کې یو تړون لاسلیک کړ، چې له مخه یې د پاکستان دولت ژمنه کړې وه، خپل اقتصاد به د آزاد بازار په اډانه کې تنظیم کړي. آی ایم ایف او نورو مالي ټولنو تر ۱۹۹۹ کال پورې تل دا شکایت کاوه، چې پاکستان له خپلې ژمنې سره سم د آزاد بازار په لوري نه درومي. خو کله چې پرویز مشرف په ۱۹۹۹ کال کې د پوځي کودتا له لارې واک ته ورسید، د آزاد بازار سیاست یې په چټکۍ سره پلي کړ.

په پاکستان کې د آزاد بازار د سیاست له پلي کیدو سره د بیوزلۍ کچه په بې ساري توګه سیوا شوې ده. پاکستاني اقتصادپوهان وایي، چې د پاکستان له خپلواکۍ (۱۹۴۷) وروسته دا د بیوزلۍ تر ټولو شرمونکې کچه ګڼل کیږي. دا وخت په پاکستان کې په سلو کې څه باندې څلویښت کسان د بیوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي، په داسې حال کې چې دا سلنه په ۹۰ لسیزې کې په سلو کې ۱۷ وه.

د خصوصي کيدنې سياست او د ملي بانکونو خرڅلاو، دا هيواد د وزګارتيا له کړکيچ سره مخ کړی دی. په دې وروستيو کې د پاکستان د اورګاړي له سکتور څخه ۳۰۰۰۰ کسان وزګار شول؛ د بريښنا بيه په تيره لسيزه کې لس برابره لوړه شوې ده؛ د هغه ۱۴ صنعتي څانګو څخه چې د ۸۰ لسيزې راپديخوا خصوصي شوې دي، يوازې دوه سکتورونو يې نسبتاً وده کړې ده او په درې سکتورونو کې د ودې کچه ټيټه شوې او په نهو سکتورونو کې کوم بدلون نه دی راغلی. همدا ډول د بازار اقتصاد د پاکستان د کرنې سکتور، چې د دې هيواد ٪۷۰ کاري ځواک په کې بوخت دی، له زيان سره مخ کړی دی. لويو کروندګرو ته سبسايډي په خپل ځای پاتې ده او د نيستمنو کروندګرو سبسايډي له منځه وړل شوې ده.

دې اقتصادي ناورين په پاکستان کې د زيارکښانو غبرګونونه راپارولي دي او د خصوصی کيدنې پر ضد غورځنګونه ورځ تر بلې سيوا کيږي. په دې هيواد کې د خصوصي کيدنې پر ضد اعتراضونه تر دې کچه رسيدلي دي، چې آن د سترې محکمې قاضي القضات هم د جنرال پرويز مشرف لخوا د نورو چارو تر څنګ د خصوصی کيدنې د مخالفت له امله له دندې ګوښه کړای شو. د پاکستان قاضی القضات افتخار محمد چوهدری په دې وروستيو کې د دې هيواد تر ټولو سترې پولاد جوړونې کارخانې د خصوصي کيدو پر ضد حکم ورکړی و. ټاکل شوې وه چې دا کارخانه د پاکستان د لومړي وزير شوکت عزيز پر يوه ملګري وپلورل شي.

د دريمې نړۍ (نيمه پانګوالو) هيوادونو ته د نړيوال بانک او د پيسو د نړيوال صندوق پورونه لامل کيږي، چې دا هيوادونه پوروړي او له اقتصادي کړکيچ سره مخ شي. پاکستان دا مهال له مالي ټولنو څخه ۳۶ ميليارده ډالره پوروړی دی. دا پورونه لامل کيږي، چې دولتونه د ټولنيزو لګښتونو کچه راټيټه کړي او د روغتيا، ښوونې او نورو ټولنيزو خدمتونو په خصوصي کولو پيل وکړي او دا خصوصي کيدنه لامل کيږي، چې طبقاتي نابرابرۍ د خلکو په منځ کې سيوا شي.

په چين او هند کې، چې د پانګوالو ټولنو لخوا د ګړندې اقتصادي ودې هيوادونه شميرل کيږي، د خصوصي کولو له امله نابرابري په چټکتيا سره مخ په وړاندې درومي. په هند کې د ګړندي اقتصادي ودې ډيره ګټه د دې هيواد د ٪۲۰ شتمنو کسانو جيب ته لويږي. په داسې حال کې چې۳۵۰ مليونه کسان په بيوزلۍ او ناداری کې ژوند کوي او يوازې په کلکته کې ۲۵۰۰۰۰ ماشومان د واټونو په پياده رو کې شپه سبا کوي.

"د نړۍ په لويه دموکراسۍ" کې پانګوالان او د آزاد بازار دلالان د دې هيواد له سنتونو او دودونو څخه هم د بډايني لپاره کار اخلي. د فوربس خپرونې په ۲۰۰۴ کال کې وليکل چې د هند په بنګلور ښار کې د يو ۱۵۰۰ کلن دود له مخې دا مهال ۱۵۰۰۰ ميرمنې، چې په دالیت کاسټ پورې تړاو لري، د تشناب پاکولو دنده په غاړه لري . دا ميرمنې د سهار له۶ بجو څخه د شپې تر ۱۱ بجو پورې کار کوي او په ورځ کې له ۳۰ څخه تر ۴۰ هندۍ کلدارې لاس ته راوړي. همدا ډول د دې کاسټ ميرمنې د بمبي د فاحشې خانو په سلو کې نوي جوړوي. د آزاد بازار دلالان له دې ناوړه ۱۵۰۰ کلن دود څخه په ګټې اخيستنې سره په ميليارډرانو بدل شوي دي. د همدې دودونو څخه په ګټې اخيستلو سره د هندي پانګوالو شميره له جاپاني پانګوالو څخه سيوا شوې ده او په ۱۹۱ ميليارده ډالريزې پانګې سره يې د آسيا د پانګوالو په لومړي کتار کې ځای نيولی دی. په ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ کلونو کې د نړۍ د ميلياردرانو د ودې شميره په سلو کې ۲۳ وه، په داسې حال کې چې په هند کې د دودونو له برکته دا سلنه ۶۴ وه. په ۲۰۰۶ کال کې د ۱۲۱۰۰۰ دهقانانو ځان وژنه، چې خپلو مالکانو ته يې د پورونو د سپارلو توان نه درلود، د آزاد بازار منځپانګه او د "نړۍ سترې دموکراسۍ" د ټولنيز ژوند وضعيت په ښه توګه ښکاره کوي.

## سوسياليستی اقتصاد د زبيښاک پای

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د نيوليبراليستي او د آزاد بازار اقتصاد په وړاندې د کارګري غورځنګونو په اډانه کې غبرګونونه پيل شوي دي. په سويلي امريکا کې، چې د نړۍ دويمه بيوزله وچه ګڼل کيږي او د متحدو ايالتونو د نيوليبراليستی اقتصاد ښکيل ده، دا مهال د امپرياليستي سياستونو په وړاندې د زيارکښانو غورځنګونه ورځ تر بلې غښتلي کيږي، ځکه چې د آزاد بازار اقتصاد د دې بيوزلې وچې زيارکښانو ته له بيوزلۍ پرته بل څه نه دي ورپه برخه کړي. له همدې امله نن دا لويه وچه د پانګوالۍ اقتصاد په وړاندې راپاځيدلې او د سوسياليزم په لور درومي.

د ونزويلا ولسمشر هوګو چاويز، چې يو پوپوليست سوسياليست دی او د اقتصادي نيوليبراليسم ضد يوه پيژندل شوې څيره ده، وروسته له هغې چې په ۱۹۹۸ زيږديز کال کې واک ته ورسيد، په ۲۰۰۵ کال کې د تعاونيانو شميره يې ۸۳۷۶۹ ته ورسوله، په داسې حال کې چې له دې مخکې په ونزويلا کې يوازې ۷۶۲ تعاونيانې وې. په ونزويلا کې د سوسياليستي اقتصاد په غوره والي سره د دې هيواد اقتصادي وده په ۲۰۰۴ زيږديز کال کې د لومړي ځل لپاره ٪۱۷،۵ ته ورسيده. په همدې موده کې د وزګارتيا کچه په سلو کې له ۱۴،۵ څخه ٪ ۱۱ ته راټيټه شوه.

دا وچه په هڅه کې ده چې د امريکا د متحدو ايالتونو د آزادې سوداګرۍ په وړاندې د مرکسور د تړون په اډانه کې د لاتينې امريکا د هيوادونو يو ګډ اقتصادي او سوداګريز بلاک جوړ کړي. همدا ډول په دې وروستيو

کې ونزویلا او ارژانتین تمه ښودلې ده، چې د IMF او نړیوال بانک د اقتصادي اغیزې د ژغورنې په موخه او د امریکا د مالي ټولنو په وړاندې د "سویل بانک" تر نوم لاندې یوه ګډه مالي ټولنه رامنځ ته کړي.

د آزاد بازار د اقتصاد په وړاندې د لاتیني امریکا د هیوادونو هڅې، دا په څرګنده توګه ښکاره کوي، چې د لاتیني امریکا ډیرئ هیوادونه، آزاد بازار د طبقاتي توپیرونو د سیوا کیدلو لامل ګڼي او له همدې کبله د یوویشتمې پیړۍ د سوسیالیسم په لور رهي شوي دي، تر څو د انسانانو زبیښاک ته د پای ټکی کیږدي.

کوبا، چې د لاتیني امریکا له انقلابي هیوادونو څخه ګڼل کیږي او څه باندې ۵۰ کاله د متحدو ایالتونو د اقتصادي محاصرې لاندې ده، د سویلي امریکا نورو هیوادونو ته د اقتصادي هوساینې ښه بیلګه ګڼل کیږي او له همدې کبله هوګو چاویز په کراتو ویلي دي، چې په ونزویلا کې به د کوبا ورته اقتصادي سیاستونه، چې پر سوسیالیستي اقتصاد ولاړ وي، پلي کړي.

وروسته له دې چې فیډل کاسترو په ۱۹۵۹ زیږدیز کال کې واک ته ورسید او په کوبا کې یې سوسیالیستي دولت اعلان کړ، وېې ویل چې کوبا به د ګنو د صادراتي هیواد پر ځای په یو صنعتی هیواد بدل کړي او مادي نعمات به په عادلانه ډول وویشي. نوموړي د ځمکې رفرم تر لاس لاندی ونیو او د کوبا صنعت او کانونه او نور ټولنیز خدمات یې ملي کړل.

د سوسیالیستي دولت په لومړیو کې په کوبا کې د وزګارتیا کچه ډیره لوړه وه؛ نیمایي وګړو بریښنا ته لاسرسی نه درلود؛ له ۶ میلیون کسیزه هیواد څخه درې نیم ملیون تنو د هستوګنې وړ کور نه درلود؛ دا هیواد د روغتیا او ښوونې له جدي ستونزو سره مخ و او په سلو کې ۸۵ کوبایي بزګرانو ځمکې نه درلودې. له سوسیالیستي اقتصاد څخه مخکې د کوبا ټلفن، بریښنا او کرهنه د امریکا د متحدو ایالتونو د کمپنیو په لاس کې وو.

په کوبا کې سوسیالیستي اقتصاد د دې لامل شوی، چې له وړیا درملنې او ښوونې سره سره د کوبا اقتصاد ګړندۍ وده وکړي. د دې هیواد اقتصاد، له اقتصادي کلابندۍ سره سره د ۱۹۹۴ او ۱۹۹۶ کلونو تر منځ په پرله پسې توګه ٪۰،۷؛ ٪ ۲،۵ او٪ ۷،۸ وده درلوده. په کوبا کې د ملي ناخالص تولید په سلو کې ۱۵ د روغتیا او درملنې لپاره لګول کیږي. کوبا هر هستوګني ته د ډاکترانو د شمیرې له مخې په نړۍ کې دریم ځای لري . د روغتیا نړیوال سازمان له کوبا څخه د روغتیا د ښه خدمتونو له امله تر دې وخته دوه ځل ستاینه کړې ده او دې هیواد ته یې د ښو روغتیایي خدمتونو د برابرولو له کبله د "ټولو ته د روغتیا" مډال ورکړی دی.

د بشري حقوقو سازمان د شمیرنو له مخې په کوبا کې په ۲۰۰۳ کال کې ۳۳۰۰ کسان د ایډز په ناروغۍ اخته وو، چې دا شمېره د امریکا په وچه کې تر ټولو لږه شمیره او په نړۍ کې بی سارې ګڼل کیږي. کوبا هڅه کوي چې د بیوټکنالوژۍ صنعت په خپل لومړي صنعت واړوي. له همدې امله د بیوټکنالوژۍ د توکو د صادرولو کچې د ۱۹۸۸ کال په پرتله په ۲۰۰۵ کال کې په سلو کې ۴۲ ډیروالی وموند او ۳۰۰ ملیون ډالرو ته ورسید، حال دا چې په ۱۹۹۸ کال کې دا کچه ۱۳۰ ملیونه ډالره وه.

له سوسیالیستي دولت او اقتصاد وروسته په کوبا کې د ژوندانه د هیلې په زیاتوالي او د مړینې په کموالي کې ډیر لوی پرمختګ تر لاسه شوی دی. د نړیوال روغتیایي سازمان د شمیرو له مخې په کوبا کې د نارینه او ښځو د ژوندانه د هیلې د کچې انډکس د متحدو ایالتونو له انډکس سره غاړه لګوي او په ترتیب سره ۷۵ او ۸۰ کلونه دي.

له انقلاب وړاندې د کوبا ټولنه د شتمنۍ پر بنسټ په دې ډول ویشل شوی وه: ٪۴ ممتازه طبقه، ٪۱۸ منځنۍ طبقه او پاتې (٪۷۸) زیارکښې طبقې. خو له انقلاب وروسته منځنۍ طبقه ٪۵ ته راکښته شوه او ممتازه طبقه له منځه ولاړه او په دې ډول طبقاتي توپیر تر ډیره کچه په کوبا کې حل شو.

د ښوونې په برخه کې هم دې سوسیالیست هیواد ډیرې لاس ته راوړنې درلودلې دي. کوبا په نړۍ کې د وګړو په تناسب تر ټولو ډیر ښوونکي لري. دا مهال هرو شلو زده کوونکو ته یو ښوونکی شته؛ له انقلاب څخه مخکې (په ۱۹۵۸ کال کې) د کوبا په سلو کې ٪۳۰ وګړو سواد نه درلود، خو د سوسیالیستي اقتصاد له پلي کیدو سره دا کچه په بی سارې توګه راټیټه شوې ده او دا وخت یوازې ٪۰،۲ کسان زده کړه نلري، چې هغه هم ټول د پاخه عمر کسان دي. همدا ډول په ۱۹۶۰ کال کې په دې هیواد کې په سلو کې ۷ میرمنو کار درلود، چې د شتمنو په کورونو کې به یې کار کاوه، خو اوس د کوبا د پوهاندو ډیرۍ برخه میرمنې جوړوي.

دلته به د کوبا اقتصاد، چې یو سوسیالیستي اقتصاد دی، له هغو هیوادونو سره پرتله کړو، چې نژدې دوه لسیزې وړاندې یې د پانګوالۍ په لاره قدم کیښود او د آزاد بازار لاره یې غوره کړه، ترڅو له دې پرتلې څخه وګورو، چې کوم اقتصادي نظام انساني او د ټولنې د پرمختګ لامل کیږي او د فردي آزادۍ او د انساني حقوقو تامین کونکی دی.

که څه هم د شوروي اتحاد له ړنګیدلو وړاندې، کوبا له شوروي څخه سبسایډي تر لاسه کوله او کوبا په سلو کې ۸۵ سوداګري له دې هیواد سره درلوده او د ختیځ بلاک له ړنګیدو وروسته، د پنځو کلونو په موده کې د کوبا ملی ناخالص تولید په سلو کې نژدې پنځوس راوغورځید او د دې هیواد د ناخالص تولید کچه له ۱۹،۳ ملیاردو ډالرو څخه نژدې ۱۰ میلیارده ډالرو ته راکښته شوه، صنعتی تولیداتو ٪۱۵ سقوط وکړ او کرهنیزه تولید په غوڅه

توګه له منځه ولاړ او له بلې خوا د امریکا متحدو ایالتونو اقتصادي محاصرې دا هیواد له ننګونو سره مخ کړی و، خو له دې ټولو ستونزو سره سره د کوبا او د ختیځې اروپا، روسیې او د منځنۍ آسیا هیوادونو د اقتصادي او ټولنیزو خدمتونو د کچې په پرتله کولو سره دې پایلې ته رسیږو، چې آزاد بازار خلکو ته له بدمرغۍ پرته بل څه نه ورپه برخه کوي، په داسې حال کې چې سوسیالیستي اقتصاد د انساني ارزښتونو په پام کې نیولو سره د هوساینې او نیکمرغۍ زیری ورکوي.

په شوروي او ختیځې اروپا کې د پانګوالۍ کولو په ۱۵ کلنې مودې کې، د دې هیوادونو اقتصادي بنسټونه، انرژي، کانونه، اړیکیزه خدمات او لویه سوداګري د لویدیځ او امریکا د څو توکمیزو شرکتونو او مافیایي ډلو په لاس کې ولیدل. د دې پانګوالۍ کولو پایله د بې سارې وزګارتیا، لنډ مهاله دندې، د اقتصاد نسبي غونځتیا او د سرچینو لوټلو پرته بل څه نه وو.

په لهستان کې د دولتي اقتصاد پر ځای د آزاد بازار په راتګ سره، د ګدانسګ بیړۍ جوړونې کارخانه وتړل شوه. فایننشنل ټایمز د ۲۰۰۴ کال د فبرورۍ په میاشت کې ولیکل، چې له لسو کالو را پدیخوا په دې هیواد کې د کاري ځواک په سلو کې شل وزګاره دي؛ په سلو کې ۳۰ کاري ځواک په ناقانونه دندو لکه بدلمني، قاچاق، د نشه اي توکو پلور او پیر او لاس پلورنې بوخت دي. بلغارستان، رومانیا، لتویا او شرقی آلمان د لهستان په څیر وضعیت لري. په دې هیوادونو کې د پانګوالۍ کیدو په ۱۵ کلنه موده کې د منځني سرانه عاید کچه کمه شوې ده؛ اقتصادي نابرابري ورځ تر بلې ډیریږي؛ ٪۱ شتمن، ٪۸۰ خصوصي شتمنۍ او ٪۵۰ عواید په اختیار کې لري او د بیوزلو سلنه څه باندې ۵۰ ته رسیدلې ده.

د پخواني شوروی په جمهوریتونو کې، په ځانګړي توګه په ارمنستان، ګرجستان او ازبکستان کې د ژوند کچې، ٪۸۰ سقوط کړی دی. د دې جمهوریتونو د وګړو نژدې یو پر څلورمه برخه کډوالۍ ته اړ او یا هم لا بیوزله شوي دي. په دې هیوادونو کې صنایع ، ملی شتمنۍ او د انرژۍ سرچینې د بهرنیو شرکتونو لخوا لوټ شوي دي او د علمي څیړونکو شمیره مخ په کمیدو روانه ده. د نشنل جیوګرافیک د ۲۰۰۴ کال د شمیرو له مخې په ارمنستان کې په ۱۹۹۰ کال کې د علمي څیړونکو شمیره ۲۰۰۰۰ وه، حال دا چې دا شمیره په ۱۹۹۵ کال کې ۵۰۰۰ کسانو ته راټیټه شوه.

په روسیې که د نورو هیوادونو په پرتله د غارت او د بیوزلۍ کچه لوړه ده. د ۱۹۹۰ لسیزې تر نیمایي پورې د روسیې د وګړو څه باندې ٪۵۰ په بیوزلۍ کې ژوند کاوه. په روسیې کې له خصوصی کیدنې سره بې کورې سیوا شوې او د روغتیا او ښوونې مرکزونه ړنګ شوي دي. له خصوصي کیدنې وروسته د روسیې اقتصاد د اته شتمنو کسانو په لاس کې ولوید، چې څه باندې ۲۰۰ میلیارده ډالره پانګه یې د امریکا، سویس او انګلستان بانکونو ته ولیږدوله. له دې خصوصي کیدنې سره وزګارتیا سیوا شوه؛ بیوزلي ډیره شوه او ناهیلي، ځان وژنه، الکلیسم، اعتیاد او ناروغتیا دود وموند.

وال سټریټ جورنال په ۲۰۰۴ کې ولیکل، چې د شوروي اتحاد له ړنګیدو وروسته په ۲۰۰۳ زیږدیز کال کې په روسیې کې د ژوند منځنی عمر ۵۸ کالو ته راکښته شو، په داسې حال کې چې مخکې له دې د ژوند منځنی عمر ۶۴ کاله و. دا شمیره نه یوازې چې په بنګله دیش کې د ژوند د منځني عمر څخه لږه ده، له کوبا سره ۱۶ کاله توپیر لري. په ۲۰۰۲ کال کې د کوبایانو د ژوند منځنی عمر ۷۴ کاله اټکل شوی و. پانګه وال کېدنه لامل شوې ده، چې په روسیه کې ۱۵ ملیونه کسان له وخت څخه مخکې مړه شي.

په داسې حال کې چې روسیه د کورني ناخالص تولید ٪۳،۸ عمومي روغتیا او ٪۱،۵ خصوصي روغتیا ته ځانګړې کوي؛ په کوبا کې دا سلنه ٪۱۶،۷ ته رسیږي. په ورته وخت کې چې په لهستان کې د وزګارتیا سلنه ٪۲۱ ډیره شوې ده، په کوبا کې د وزګارتیا کچه ٪۳ ته راټیټه شوې ده. په داسې حال کې چې د ختیځې اروپا هیوادونه د امریکا د مریبانو په توګه د وژلو او لوټلو لپاره خپل سرتیري افغانستان او عراق ته استوي؛ کوبا خپل ډاکټران د سویلي امریکا د نورو هیوادونو د خلکو د وړیا درملنې لپاره استوي. دا مهال د کوبا ۱۴۰۰۰ ډاکټران د سویلي امریکا په بیوزله سیمو کې په کار بوخت دي.

د ملګرو ملتونو شمیرنې ښکاره کوي، چې په منځنۍ آسیا او ختیځې اروپا کې د ایډز ناروغي د نورو هیوادونو په پرتله په چټکۍ سره وده کوي. د ۲۰۰۴ کال شمیرنې څرګندوي، چې په نوموړو دوو سیمو کې ۱،۵ ملیونه تنه د ایډز په ناروغۍ اخته وو، په ۱۹۹۵ کال کې د ایډز د ناروغانو دا شمیره ۳۰۰۰۰ کسانو ته رسیده، حال دا چې په دې بلاک کې د آزاد بازار له یرغل وړاندې ۱۰۰۰۰ کسان د ایډز په ناروغۍ اخته وو.

آزاد بازار لامل شوی دی، چې دا مهال په روسیې، ختیځې اروپا او بالکان سیمې کې د هیروینو قاچاق پراختیا ومومي او هر کال د دې هیوادونو څخه نژدې ۲۰۰۰۰۰ "جنسي بردې" د نړۍ فاحشه خانو ته وسپارلی شي. په آلبانیا کې دا مهال مافیایي باندونه، د امریکا او لویدیځې اروپا د هیروینو او بدلمنیو سوداګري څاري.

## دولتي اقتصاد که سوسیالیستي اقتصاد؟

که له یوې خوا آزاد بازار، زیارکښان د بردګانو په توګه استثماروي، له بلې خوا د دیکتاتورانو او فاشیستانو دولتي اقتصاد چې پر کمونیستی ایدیولوژي ولاړ نه دی، له زیارکښانو څخه د فاشیستي موخو لپاره کار اخلي. له

هغه ځایه چې دا ډول دولتي اقتصاد، کمونیستي او انقلابي ماهیت نلري، درغلی او فساد ته لاره پرانیزي او کارګران د ټولنیز مالکیت تر نامه لاندې په بې رحمانه توګه د یوې فاشیستي ډلې لخوا تر استثمار لاندی نیول کیږي.

دا ډول دولتي اقتصاد لامل شوی دی، چې د آزاد بازار دلالان پرته له کوم ځانګړي تعریف څخه، دولتي اقتصاد د فساد او درغلۍ اقتصاد وګڼي. په داسې حال کې چې دولتي اقتصاد کیدای شي د فاشیزم، بنسټپالی او آخوندي تروریسم لپاره وکارول شي او د څو زورواکو جیبونه ډک کړي. کله چې مارکسیستان د دولتي اقتصاد خبره راپورته کوي، موخه یې پر مارکسیستي – لنینیستي تئوری ولاړ انساني اقتصاد دی .

د هټلر د واکمنۍ پر مهال په آلمان کې په ټولیزه توګه دولتي اقتصاد واکمن و، چې د فاشیزم د خپرولو لپاره کارول کیده. دا مهال په سعودي عربستان کې دولتي اقتصاد واکمن دی، چې څو بنسټپاله شاهي کورنی ورڅخه ګټه اخلي. همدا ډول په ایران کې په سلو کې اویا دولتي اقتصاد واکمن دی، خو دا دولتي اقتصاد یوازې د بنسټپالو آخوندانو په ګټه دی او د اسلامي بنسټپالۍ د دودولو لپاره کارول کیږي. ایران په کال کې نژدې ۱۲۵ ملیارد ډالره عاید لري، چې څه باندی ۸۰ ملیارد ډالره یې د نفتو او غازو څخه لاس ته راځي او دا عواید ټول د آخوندي دولت د موخو لپاره کار وړل کیږي. د ایران آخوندي دولت د دې پر ځای چې دا عواید "د خلکو دسترخوان" ته یوسي، د آخوندانو جیبونو ته لیږدوي.

په نومورړي هیواد کې آخوندان یوازې د دري بازارونو (نفت، سمنټ او اوسپنې) څخه هر کال ۳۰۰۰ ملیارد تومان په بډې وهي. د شمیرو له مخې دا مهال په ایران کې نژدې ۱۰ میلیونه کسان (۲،۵ میلیونه کورنی) د بیوزلۍ د کرښې لاندې ژوند کوي، چې په دغه ۳۰۰۰ میلیارد تومانو سره کیدای شي، هرې کورنی ته په میاشت کې د ۱۰۰۰۰۰ تومانو په ورکولو سره هغوی له بیوزلۍ څخه وژغورل شي.

هغه آزاد بازار چې په افغانستان کې د پلي کیدو په حال کې دی، له بیوزلۍ او بدمرغۍ پرته افغانانو ته بل څه نشي ورکولی. دا اقتصادي سیاست، طبقاتي توپیر ورځ تر بلې سیوا کوي او کورني تولیدات له ماتي سره مخامخ کوي او د پیشه وري له ماتې سره ډیري افغانان وزګاروي. د بهرنیو هیوادونو او په ځانګړي توګه د ایران، پاکستان، چین، هند، ترکیې او کوریا څخه د شډلو او ابته توکو په واردولو سره؛ ترکاڼي، خیاطي، آهنګري، صابون جوړول او لسګونه نورې حرفې له منځه تللي دي او افغانستان یې د نشه یي توکو په پخلنځي بدل کړی دی.

د آزاد بازار له منځپانګې څخه دې پایلې ته رسیږو، چې امپریالیستان، په ځانګړي توګه امریکا د آسیا بازارونو، سیندونو، طبیعي زیرمو، په ځانګړي توګه د نفتو او غازو لاس ته راوړني لپاره هلې ځلې پیل کړي دي او غواړي د دې وچې پراخ بازارونه په خپل لاس کې وساتي. دا هلې ځلې لامل کیږي چې د دې وچې د کارګرانو او پرګنو د استثمار په موخه د امریکا، اروپا، روسیې او چین تر منځ امپریالیستي سیالي په بې ساري توګه وده وکړي او یو ځل بیا نړی، نړیوالو جګړو خوا ته وکاږل شي.

د امپریالیستانو تر منځ د اقتصادي ګټو له کبله سیالي ورځ تر بلې سیوا کیږي او امپریالیستان د خپلو ګټو په موخه بیلابیلې اقتصادي ټولنې رامنځ ته کوي. له یوې خوا امریکا د نفتا سوداګریزه سازمان جوړ کړی دی او له بلې خوا چین د شانګهای د پراختیا په لټه کې دی. دا تضادونه هرومرو په راتلونکي کې شدت مومي او نړۍ به یو ځل بیا د خونړۍ جګړې لورې ته وکاږي. د دې تضادونو تر څنګ د آسیا پرګني به د لاتیني امریکا د غورځنګونو په څیر د زورواکی په وړاندې ودریږي او د وتلو مارکسیستي ګوندونو تر لارښووني لاندې به د امپریالیزم په وړاندې د زبیښاک او طبقي پرته ټولنې د رامنځ ته کولو په موخه، پرګنیزې جګړې پیل کړي.